# د افغانستان د بشر حقونو خپلواك كميسيون

# په افغانستان كي د ښځو او ما شومانو د قا چا ق
# د سببونه رپوټ لنډيز

۱۳۹۰ ل هـ د چنګا ښ – جولاي ۲۰۱۱ ميلادي

## سريزه

د افغانستان د بشر حقونو خپلواك كميسيون د هيواد د اساسي قانون د ۵۸ مادې بر بنسټ دنده او واك لري چي په هيواد كي د بشر حقونو پر وضيعيت باندي څارنه وكړي، او په همدې ډول د كميسون د تشكيل قانون پر بنست دا د افغانستان د بشر حقونو خپلواك كميسيون دنده ده چي خپلو بشرى حقونو ته د افرادو لاسرسي وضيعيت حخه حارنه وكړي، نو ځكه د افغانستان د بشر حقونو خپلواك كمسيون ده څيړنيز ريوټ خپروي چي په هغه كي په هيواد كي د ښځو او ماشومانو د قا چاق كولو سببونه وڅيړي

زمونږ په زمانه كي د انسان قا چاق په يوه عامه اونړيواله پديده باندې تبديل شوى د ى ، او قابو د نړى ټول هيوادونه د دې وحشي جنايت سره لاس په گريوان دى . نن په ټوله نړى كي په ميلونو انسانان په مختلفو شكلونو باندي د قاچاق قرباني كيږي ، د انسان سوداكري په كټو پټه سوداگرى باندي تبديل شوي ده اوپه كال كي انساني قا چا ق كونكوته د ۵ ،۴۲ ميليارده ډالر په شاه وخوا كي گټه په لاس وركوي . [1]

د ( ILO ) د كار د نړيوال سازمان په تخمين باندي كه څه هم د مرئيتوب په وړاندي څه پر مختگونه شوي دي او وضيعيت ښه شوي دى خوبيا هم په نړى كي د كال ۱۲ مليونه كسان د اجبارى كار او د جنسي تيريو دپاره د قا چاق قرباني كيږي .[2]

نوله دې سببه د انسان قا چاق دوسلو او مخدره توكو د سوداگرى نه وروسته په نړي كي دريمه هغه سوداگرى ده چي تر ټولو ډيره گټه لري . [3]

او ورته ( د نوي وخت مرئيتوب) يا د انسان قا چاق وائى . [4]

داسى اټكل كيږي چي په نړى كي له ۲۷ مليون ښځه ډير انسانان د مرئيتوب حالت لرى، چي د هغه د نيمائي ښځه ډيرئي د ۱۸ كلونو ښځه لږ عمر لري . [5] اوپه هغه كي بيا د % ۷۰ ښځه په سلو كي ډيرى ئي هغه نجوني دى چي د ۲۵ كلونو ښځه لږ عمر لري . [6] چي هغوي بيا د جنسي گټي اخيستني، عفت پلورنى د سكسي فلمونو جوړوني او نورو جنسي گټو دپاره په كار لويږى اوقا چاق كيږي. د قاچاق شوي انسانانو ښځه بله گټه اخسستنه هغه زبيښناك دى چي د درنو كارونو په مجبورولو سره هغوى د كښت كر ،معادن، كار خانو او فابريكو اويا هم د مخدره توكو پلورل او قاچاق، په جبري توگه د پوځ په ليكو كي هغه نيول او جگړي ته مجبوره كول،په كور كي د نوكر په توگه ساتل ، په هوټلونوكي نوكرى اويا هم د بدن ځيني غړي پريكول هم په دې زبيښناك كي شامل دي .

د انسان د قاچاق ښځه مختلفي ماناوي اخيستل شوى وى،خو تر ټولو پوره تعريف د انسان د قاچاق دپاره ( د انسان د قاچاقو او سزا گانو د بندولو، درولو پرتوكول په تيره بيا د ښځو او ماشومانو

---

[1] http :/en.wikipedia . org./ wiki / human trafficking-

[2] http:/ www.america.gov/st demdcracyhr-persian 2010/june201 006176402bobo3298151.html -

[3] http/www.khabaronline.ir/news-111980.aspx-

[4] (modern day slavery ) see in Kathryn cullen dupont global Issues human trafficking newYark An - imprint of Infobase publishing 2009 p7

[5] .Edward Newman and sally cameran trafficking in Human:soial cultural and political Dimension United - Nations University Press Tokyo New York Paris 2008 –P .5 http://www.aftabnews.ir /vdcgty9q.ak9ty4prra.htmihttp://www.aftabnews.i

http/www.aftabnews ir/ vdagty 9qakatv4prra.html -6

7-Pale rmo Protocol on Human Trafficking (2000) Article

دپاره ) چي د ۲۰۰۰ کال د ډسامبر په میاشت کي د ملګرو ملتونو په عمومي غونډه کي تصویب شوی دی. دپورته پروتوکول دریمه ماده د انسان د قا چاق په برخه کي داسی وائي.
الف : د انسان قاچا ق : عبارت دی د خلګو په زور اویا ویرولو سره د هغوی استخدام، لیږدول،ځای پرځای کول اویا هم په جبري طریقو باندي،په تښتولو،فریب، چل یا هم د افرادو زیانمنونکی حالت څخه په ناوړه ګټه اخیستلو یا هم د پیسو په زوریا بل هر هغه امتیاز چي د یو کس رضایت د دي دپاره جلب شي چي زبیښناك او ګټه اخیستنه اویا هم د عفت د پلورول دپاره د هغی څخه ګټه اخیستنه یا هم د هغوی څخه د جنسی ګټو اخیستلو یا اجباری او سخت کار، مرئیتوب او ورته حالت ، اویا د بدن د غړو پریکول وي .
ب : د قاچاق شوي انسان ر ضا ئیت چي د الف په فقره کي ورته اشاره شوي ده، په هغه حالت کي چي د پورته حالتونو څخه یوهم پر هغه پلي کیږي ( الف ) د اعتبار وړ نګرځي..
ج : د ما شومانو استخدام،لیږدول، ځای پرځای کول، پټول اومنل چي د زبیښناك په منظور وي(د انسان قاچاق ) ورته ویلاي شو، حتا که د الف د بند یوه ماده هم پکي شامله نه وي .
د : ماشوم هغه څوك دی چي سن ئي د ۱۸ کلونو لږ وي.[۷]

**د دې رپوټ څېړنیز رپوټ میتودو لوژي اوکړنلاره (رویش)**

د دي څیړونو پایلي پر هغو موندنو متکي دی کوم چي د ۴۵۷ پوښتنپاڼي په وسیله د قر بانیان څخه او ۱۸۷۱ ټولیزوپوښناپاڼي په وسیله د هیواد په شلو ولایتونو کي د شپږو میاشتو په اوږدو کي ( د۱۳۸۹ کال د لیندی اوله- بیا د ۱۳۹۰ کال د غبرګولی ۳) په لاس راغلي دي ، د دې پوښتنپاڼي هری پاڼي تحلیل په ځانګړي توګه شوی دی .
د قربانیانو دغه پوښتنپاڼي یا پخپله د قاچاق قربانیانو اویا هم د هغوی د خپلوانو له خوا لکه د هغوی مورپلار،خور، ورور،ماما ، تره،خاله یا ترور له خوا ځواب ورکړل شوی دی او د دې څیرني پایلي د هغوی پر اساس باندي د رول شوي دي. ټولیزی پوښتڼ پاڼي هم د عامه خلګو له خوا ځواب شوي دي او په تصادفي ټوګه د ښځو او نارینه وو ترمینځ تناسب رعایت شوی دی .
په همدې ډول دغه پوښتنپاڼي د خلکو نظر د ځانګړو سوالونو لکه د انسان د قا چاق سببونه د انسان قاچاق کونکي ،د انسان د قا چاق انګیزې او نور راته بیانوي . د دې پوښتنپاڼو موندني په جلا توګه تر تحلیل لاندی نیول شوي دي .

**د دې رپوټ د لوی موندنو لنډیز عبارت دی د:**

- د ښځو او ماشومانو زیا نمنني حا لت لکه د مور اوپلار نلرل اویا هم د قاچاق په پیښه کي د هغوی د یوه مرسته کول شامل دي. د رپوټ موندني ښئي چي ډیر شمیر قربانیان زیانمنونکی افراد وه ، د بیلګي په توګه د قربانیانو د نیمائي څخه ډیر ( % ۵۴ ) ئي د پلار او مور د ملا تړ څخه بې برخي وه، نږدې % ۱۷ ( ۷۷شمیر ) قربانیان د کور میر منی وې ، % ۷ (۳۲ شمیر) قربانیان بیا ګدایان ، د سړك غاړي خرڅونکی ، د کڅا فاتو ټولونکی اونور ئي بیا زده کونکي ، ښوونکی ، دولتی چارواکي، دوکانداران، ګنډونکي، غالی اوبدونکی او یا هم د مور اوپلار سره په کار بوخت کسان وه.

- د زور او بې وخته ودونو کول د قاچاق یو بل سبب وو، په دې رپوټ کې دا څرګنده شوه چې د قاچاق شوي کسانو ډېره برخه هغه څوک وي چې په لږ عمر کې واده کړی وو ، د مرکه کونکو څخه ئې ٪ ۸۱ تر ۱۸ کلنی مخکي واده کړی وو او بیا له هغه جملې څخه ٪ ۵۰ ئي هغه کسان وه چې د ۱۵ کښته عمر کي ئی واده کړي وو ، دا هم دیا دوني وړ ده چې ځینو قربانیانو په دوه کلني کی واده شوي وه . درپوټ څخه د اڅرګندیږي چې ٪ ۲۹ ( ۴۷ شمیر) هغه کسان وه چې د لومړي جنسی تیری پر شوی وو ، یا تښتولی شوی او یا هم په ویره او یا تاوتریخوالی باندي واده کولوته مجبوره شوي وه ٪ ۵ ، ۴۵ ( ۷۳ شمیر ) هغه کسان وه چې د پلار اومور په ر ضا ئیت سره واده شوی وه ٪ ۳ ،۹ ( ۱۵ شمیر ) بیا د پیسو په بدل کي واده کړی وو، ٪ ۷ ، ۳ ( ۶ شمیر ) د کورنی اختلا فونو د حل په سبب واده شوي وي، خو په ټول کي یوازي ٪ ۵ ، ۱۲ ( ۲۰ شمیر ) ئې پخپله خوښه ودونه کړي وه .
- فقر او بیکاري د انساني قاچاق تر ټولو لوی سبب دی ، د دې رپوټ له مخې د ٪ ۵۸ څخه ډیرو کورنیو ورځنی در آمد نه در لودی اویوازی ٪ ۱۰ کورنیو د میاشتي تر ۷۰۰ افغانیو ډیر در آمد لا ره په سلوکي ٪ ۲۷ ئې د ۱۰۰۰ څخه تر ۷۰۰۰ افغانیو پوری میاشتني در آمد در لودی، او د عامه خلګو سره په مرکو کي هم هغوی فقر او بیکاری د قاچاق تر ټولو لوی سبب یاد کړ.
- د انسان قاچاق کونکی د دې ناوړه عمل په وخت کي د مختلفو وسیلو لکه چال او فریب، ویرول اوزور اونوروشیانو څخه کار اخلي. د دې رپوټ پر بنسټ په سلو کي ٪ ۳۵ قربانیان ( ۱۵۸ شمیر ) د چال او فریب په وسیله ، نږدې ٪ ۳۱ ( ۱۳۶ شمیر ) په ویرولو او زور، ٪ ۱۲ ( ۵۱ شمیر ) د پلار اومور یا خاوند په خوښه (د ښځو قربانیانو په هکله) او ٪ ۵ ،۲۲ ( ۱۰۰ شمیر ) بیا په خپله خوښه د انساني قاچاق چیانو په لومه کي بند شوي دي . او په همدې توګه قاچاق کونکو د ویرولو ،زورچال او فریب تر څنګه د نورو وسیلو لکه پیسي ورکول، واده کول، او د هیواد نه بهر ته بیول په وړاند یزونو دا کار سرته رسولی دی ، د دې رپوټ په قول چې ٪ ۷۵ ډیرو قربانیانوته د پیسو ورکولو، وارد ه کولو او دهیواد نه بهر ته بیولو وړاندیز د انسانی قاچاق کونکو له خوا شوی وی. او٪ ۷۴ قربانیان چې د پیسو ژمنه شوې وه خو پیسې نه د ي ورکړل شوي ، اوپاته نوروئی د پیسو یوه برخه تر لاسه کړې د ه .
- هغه قربانیان چي د قاچاق کونکو له خوا بهرته لیږدولز کیږي د مختلفو ستونزو سره مخامخ کیږيلکه دسندونو نلرل چي د پولو څخه د تیریدو اویا دتګ او راتګ دپاره پکار راځي ،موندني داښئي چي ٪ ۹۷ هغه قربانیان چي دهیواد نه بهر لیږل شوي دی په جعلی سندونو باندي وه اویوازی ٪ ۴ ،۲ ئې په رسمی سندونو د هیواد نه بهر لیږدول شوي دي .
- دانسانی قاچاق کونکی خپل قربانیان د لیږدولو په وخت کي د ناوړو ګټو اخیستونو لاندي نیسي درپوټ پایلي څرګنده وي چي قرباني ماشومان، نجوني اوښځې د کورنی کارونو ورځني مزدوری ،د مخدره توکو پلورلو ، ګدائي کولو،ګدا ، عفت خر څول ، د پوځي خدمتونو ګمارلو،ځان وژونکی بریدونه ، د بدن دغړو څخه ګټه اخیستل او نورو کارونو دپاره لیږدول کیږي،د عامه خلګو سره مرکو همدغه څه جوتوي .
- د انسان په قاچاق کولو کي دا شرط نه دی چي یو انسان دیوه هیواد څخه وایستل شي ، د دې ر پوټ پایلي دا راښئي چي داڅه د هیوادونو په د ننه اوبهر کي سرته رسیږي،

درپوټ پایله وائي چي په سلو کي % ۶۰ د ښځو او ماشومانو قاچاق د هیواد په د ننه کي تر سره کیږي چي دیوي سیمي څخه بلي اویا هم د یوه ولایت څخه بل ته د هیواد په دننه کي لیږدول کیږي، د هغه قاچاق شوی انسانانو څخه چي بهرته کیږي ټول % ۳۹ جوړوي نږدي په سلو کی % ۱۸ ئې پاکستان ، % ۱۷ قربانیان ایران او % ۴ ئې نورو هیوادونو ته قا چاق کیږي.

- په انساني قاچاق کي جنسیتي موضوع هغه سببونه دي چي ډیری نجوني اوښځي د دې ناوړه عمل قرباني کیږي ، درپوټ له مخي د ټولو قاچاق شوی کسانو له جملې څخه ئې % ۱۹ هلکان، % ۴۵ ئې نجونی او % ۳۸ ئې ښځوې .
- دهیواد څخه بهر دقاچاق د قربانیانو زبیښاك یو دبل څخه جلا شکل لري، مثلا د ایران هیواد په لوري د انساني قاچاق د قربانیانو % ۷۰ هلکان دی چي د کورني کارونو ، بزګري ورځنی کارونوو او پلورنکو په توګه ګمارل کیږي . د % ۶ ډیر ئې د جنسي ګټی اخیسني اود % ۱۹ څخه ډیرئې بیا د مخدره توکو د پلورولو دپاره په کارول کیږي ، خود پاکستان هیواد ته د قاچاق شوی انسانانو % ۳۹ ښځي % ۳۸ نجوني او % ۲۳ ئې هلکان دي . په پورته هیواد کي % ۴ ، ۵۴ قربانیان د کورونو د کار دپاره استخدا میږي چي د هغوی ډیره برخه نجوني دی او تر زبیښاك لاندی ژوندکوي ، اوپس له هغه څخه جنسي زبیښاك د % ۳۰ څخه ډیر او% ۴ ، ۶ قر بانیان د ځان وژونکو اوورانونکو بریدونو دپاره % ۵ ،۵ ئې د مخدره توکو پلورلو دپاره او ورځني مزدوري ، ګدائي کول او پلورنکو په توکه یوازی په سلوکي % ۳ ،۱ په کار لویږي .
- یو ډیر شمیر قاچاق شوي قربانیان بیرته هیواد ته د را ستنیدو هیلی لری ، کله چي د قر بانیان سره مرکي وشوي % ۶۰ ئې دې ته لیوال دي چي بیرته هیواد ته را ستانه شي خو % ۴۰ بیا د مختلفو سببونو له کبله لکه د ځان په هکله ویره ، آبرو او حیثیت، د کار نشتوالی ، فقر او د ټیکاو نشتوالی او په هیواد کي د امنیت نشتون په خا طر نه راځي. حودا هم باید ووایو چي د بهر ته تللو قاچاق شوي قر بانیان په مینځ په مخدره توکو ا خته کسان ډیریږي،په تریاکوا خته کسان د ۷ څخه ۱۴ کسانو ته او د هیروئینو استعمال د ۳ څخه و ۲۲ کسانو ته لوړ شوی دی . ۱۰۷ کسانو ویلي دي چي جسمی او یا اروائې ستونزي ئې لیدلي دي او وژني ۱۶ پیښي هم د هغوی له خوا ویل شوي دي .
- د قاچاق پدیده په هیواد کي د هغه مسئلو څخه ده چي لا ښه ښکاره نه ده د مرکه شوو کسانو له جملې څخه یوازی % ۵۴ ویلي دي چي دوي په مستقیم اویا نا مستقیم توګه د انساني قاچاق د بهیر څخه خبردي او یا هم د خلګو د خولې ،دوستانو ،رسنیو او ښوونکو څخه اوریدلی دي . له دې طریق څخه د ۱۸۸۹ قضیې د ښځو او ماشومانو د قا چاق په برخه کي رپوټ ورکړل شوي دي. [8] د هغو قضیو له جملې څخه چي اوریدل شوي دي % ۳۸ ئې د ښځو قر بانیانو په هکله دي ، % ۳۵ ئې د نجونو او % ۲۷ ئې د قرباني هلکانو په هکله دي ، هغه مالوماتونه چي خلګ په دې برخه کي لري څرګندوي چي % ۹۲ قر بانیان د هیواد اوسیدونکي دي چي د هغه جملې څخه ئې ۶۸٪ ښځي او نجوني دي ، د دې پوښتنپاڼو پر بنسټ چي % ۸ دانسانی قاچاق قربانیان بیا د ایران ،پاکستان ، تاجکستان ، هندوستان او نیپال هیوادونو څخه زموږ هیواد ته راوستل شوي دي .

---

۸. دا باید ووایو چي په د ې رپوټ کي د ټولنیزو پوښتن باڼو پر بنسټ دغه دقیق شمیرنه دنو ځکه ممکن یوه قضئه د څو خلګو له څولې ویل شوي وي او یا لید ل شوې وي ، خو د مرکو څخه داسی څر ګندیږي چي په هیواد کي زیا ت شمیر خلګ د دې ناوړه پدیدې د بهیر څخه خبردی

- عامه خلك هم زيانمنني لكه د سرپرست نلرل ، بيځايه كيدل ، د پولي راشړلى او هيواد څخه ايستلى هم د انسان په قا چاق كى لويه ونده اخلي ، د هغوى په وينا چي يوازي په سلوكي % ۳۴ د قاچاقا قربانيانو ترقاچاق مخكى په نسبتا ښه ا ستوګنځي كي اوسيد ل ، % ۵ ، ۳ قر بانيان معتاده وه او په سلوكي تر % ۶۰ ډير ئي د كورنيو ملا تړ د ځان سره نه درلودى .
- ډير ځله د انساني قاچا ق كونكي كسان تر قانونى تعقيب لاندى نه نيول كيږي ، چي دا پخپله د دې فساد دپاره لاره هواروي ، د هغه عامه خلګو له جملې څخه چي مركه ور سره شوې ده يوازى % ۱۷ خلګو ويلي دي چي د انساني قا چاق كونكى نيول شوي دي خو % ۸۳ بيا ويلي دى چي قاچاق كونكى نه دى نيول شوي . په داسي حال كى چي % ۱۳ عامه خلګو ويلي دى چي د قاچاق كونكى په سزا رسيدلي دى خو د هغوى په وړاندى % ۸۷ خلګو ويلي دي چي قاچاق كونكى نه دي مجازات شوي .
- دعامه خلګو له نظره درى ډلى خلګ په هيواد كي د ه انسانى قا چاق په بهير كي لاس لري : سيمه ييززور واكان ( % ۳۲ ) داخلي او بهرني جوړشوي ډلي ( % ۲۸ ) طالبان او د دولت مخالفى ډلى ( % ۵ ،۱۷ ) .

**وړانديزونه:**

- د افغانستان د بشرحقونو خپلواك كميسيون د دولت څخه غواړي چي د پا لرمو پروتوكول لاسليك او د هغه سره ځان يوځاى كړي او د هغه د پلي كيدو دپاره اړين تد بيرونه ونيسي.
- كميسيون په كلكه له دولت څخه غواړي تر څو د مدني ټولنو او په هيواد كي د نړيوالو موسسو سر ه ههمغږي شي او د انساني قاچاق كولو د مخنيوي دپاره سم پرو ګرامونه او ستراتيژۍ جوړي كړي .
- دولت بايد د انساني قاچاق د قربانيانو سره مرسته وكړي او هڅه وكړي چي هغوى په ښه توګه بيرته د ټولني سره يوځاى كړي.
- كميسيون د عدلي او قضايي ځانګو څخه غواړي چي د انساني قاچاق چلونكى د قانون سره سم تعقيب او اړونده چلند ور سره وكړي .
- دولت بايد حڅه وكړي چى خلكو ته د كار او مزدورى زمينه برابره كړي، او د افغانستان ټولو اتباعوته امنيت تامين كړي.
- كميسيون د دولت څخه غواړي چي د ماشومانو زيانمنونكي حالت ته پاملرنه وكړي او د هغوى اروا ئي او فزيكي اړتياوو ته پاملرنه وكړي او د هغوى د ملا تړ دپار ه ځانګړي پرو ګرامونه تر تيب كى .
- كميسيون د دولت څخه غوښتونكى دى چي د انساني قاچاق د مخنيوى دپاره د هغه هيوادونو د حكومتونو سره اړيكي ټينګى كي كوم چي انسانان ورته په قاچاق وړل كيږي اويا هم د هغوى د هيوادو څخه ئي تيروي او د قاچاق پر ضد د هغوى سره ګډ و مشورو ته ورسيږي .